# مُعجزه جوړشوے راغلو

# زمونږه نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**18-October-2021**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# مُعجزه جوړ شوے راغلو زمونږه نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، چې یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي.

یاد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شریف فضیلت

د یو کس بیان دے: ما د شپې لمونځ ادا کولو، په تَشَهُّد کښې رانه په خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شریف لوستل هیر شو، نو په ما باندې د خوب غلبه راغله چې اُوده شوم نو په خوب کښې را ته د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دیدار نصیب شو، خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: تا نن په ما باندې دُرُود شریف لوستل هیر کړي دي. ما عرض اوکړو: یَا رَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه د الله پاك په ثناء کښې مشغول ووم. خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: آیا تا ته معلومه نه ده چې په ما

باندې دُرُود شریف لوستلو نه بغیر الله پاك خپله ثناء هم نه قبلوي، هغه داسې یو دُعا هم نه قبلوي په کومه کښې چې په ما باندې دُرُود شریف نه وي لوستلے شوے او یو حاجت هم نه پورا کوي ترڅو پورې چې په ما باندې دُرُودِ پاك اونه لوستلے شي، آیا تا د الله پاك دا فرمان نه دے اوریدلے: صَلُّوۡاعَلَیۡہِ وَسَلِّمُوۡا تَسۡلِیۡمًا [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: په هغوئي باندې دُرُودِ پاك او ښه سلام اولولئ. (پ22، الاحزاب:56)[1]

## د بیان اوریدلو نیتونه

مُحترمو اسلامي وروڼړو! ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے ﷺ: " اَفۡضَلُ الۡعَمَلِ اَلنِّیَّةُ الصَّادِقَةُ " ریښتینے نیت بهترین عبادت دے.(2)

اے عاشقانِ رسول! نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

❀ د عِلمِ دِین حاصلولو نِیَّت اوکړئ او نور دا نیتونه اوکړئ چې ❀ نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بیان اورم. ❀ چې څومره کیدے شي د ډډه وهلو په ځائے به د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت د اَلتَّحِیَّات په شکل کښې کښینم ❀ د علم زده کولو د پاره به پوره بیان اورم ❀ د بیان په دوران کښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❀ د خپلې اصلاح د پاره به بیان اورم ❀ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

خورو او محترمو اسلامي وروڼړو! د ټولو نه اوَّل خو مونږ له د الله پاك ډیر ډیر شُکر

---

1...حکایتیں اور نصیحتیں، ص ۶۱۷

2...جامع صغیر، صفحه:81، حدیث:1284۔

ادا کول پکار دي چې هغه مونږ ته يو ځل بيا د 12 رَبِیْعُ الْاَوَّل مُقَدَّسه نوراني شپه را نصيب کړه. نن شپه ډيره اَهَمَّه شپه ده. دا شپه ډيره عَظِیمُ الشَّانه شپه ده. دا شپه د ډيرو فضائلو برکاتو نه ډکه مُقَدَّسه شپه ده. ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**، کومه چې د ټولو جهانونو د ټولو نه لوئے شان و شوکت والا هستئ سَیِّدُ الانبياء، تاجدارِ انبياء صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره نسبت لري. ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**،چې په دې شپه د حضرت آمنه رَضِیَ اللہُ عَنۡھا په کور مبارك کښې داسې نُور اوپړقيدلو چې ټول عالَم ئې روښانه کړو ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**، کومه چې د شَبِ قدر نه هم افضله ده. (ماثبت بالسنة، ص۱۵۳) ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**، چې په دی شپه هر طرف ته خوشحالئ خوشحالئ وي ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده** چې په دی شپه هر طرف ته د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د راضي کولو کوششونه جاري وي ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**، په کومه شپه چې هر طرف ته نُور خور شو ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**، په کومه شپه چې د کفر و شِرك ټولې تيارے ختمې شوے ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**، په کومه کښې چې الله پاك په مُومِنانو باندې لوئ احسان اوفرمائيلو ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**، په کومه شپه چې شيطان د خپلو ملګرو سره رُسوا شو ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**، چې په دې شپه د اسمان ستوري هم زمکې طرف ته راښکته شو ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**، کومه چې د ټولو شپو سرداره ده ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**، چې په دې شپه د حضرت آمنه رَضِیَ اللہُ عَنۡھا د کور نه داسې نور اوپړقيدلو چې مشرق او مغرب ئې روښانه کړل ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**، چې په دې شپه د فرښتو سردار حضرت جبرئيلِ اَمِين عَلَیۡہِ السَّلام په مشرق، مغرب او خانۂ کعبه باندې جهنډے اُولګولې . (خَصائصِ کبریٰ ،۱/۸۲ ملخصاً) ❁ **دا هغه عظيمُ الشّانه شپه ده**، چې په دې شپه کښې د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په تشريف راوړلو باندې د ايران بادشاه کِسریٰ

په محل کښې زلزله راغله او د هغه د محل دیوالونه اوچاودل ❁ **دا هٰغه عظیمُ الشّانه شپه** ده،چې په دې شپه د اِیران د زرګاؤ کلونو نه بله آتش کده بچپله مړه شوه ❁ **دا هٰغه عظیمُ الشّانه شپه** ده، چې په دې شپه د الله په حکم د اسمان او جنت دروازے بیرته کیږي ❁ **دا هٰغه عظیمُ الشّانه شپه** ده، چې په دې شپه د اسمان نه د نُور باران را وریږي ❁ **دا هٰغه عظیمُ الشّانه شپه** ده، چې په دې شپه فرښتو هم د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په پیدا کیدلو باندې خوشحالۍ مناو کړي دي.❁ **دا هٰغه عظیمُ الشّانه شپه** ده، په کومه شپه چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم دُنیا ته د تشریف راوړلو په وجه د کفر و شرك تولې تیارے ختمې شوے.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اوس مونږه واوریدل چې **د نن دا شپه هٰغه عظیمُ الشّانه شپه** ده، چې په دې کښې نوراني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د نُور خیرات تقسیمولو او جهان د خپل نور په رنړا باندې پړقولو د پاره دې کائنات ته تشریف راوړو. راځۍ چې د بیان شروع کیدلو نه مخکښې د اَمیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه له طرفه عطا کړو شوو نعرو سره د دې نوراني شپے استقبال اوکړو. که ممکن وي نو مدني جهنډے هُم ښے اوپړقوئ او په مینه و محبت سره د **مرحبا یا مصطفٰی** نعرے اولګوئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د سرکار آمد | مرحبا | د نامدار آمد | مرحبا | د نُور آمد | مرحبا |
| د سردار آمد | مرحبا | د ښکلي آمد | مرحبا | د مکّی آمد | مرحبا |
| د مُختار آمد | مرحبا | د مدني جانان آمد | مرحبا | د مدنی آمد | مرحبا |
| د صادِق آمد | مرحبا | د یٰسٓ آمد | مرحبا | د رحیم | مرحبا |
| د مُزَّمِّل آمد | مرحبا | د مُدَّثِّر آمد | مرحبا | د طٰهٰ آمد | مرحبا |

مرحبا یا مصطفٰی مرحبا یا مصطفٰی مرحبا یا مصطفٰی

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د بیان موضوع ده: **مُعجزه جوړ شوے راغلو زمونږه نبي**(صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم). په دې کښې به مونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم

مختلفي معجزے اورو. يقيناً په دي کښې شك نشته چې نبـي آخِرُ الزَّمان، سرورِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو انبياؤ هم نبـي دے. او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سِيرتِ مبارَکه د ټولو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام د ژوند خُلاصه ده. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په عالَمِ کائنات کښې د اَوَّلينو آخِرينو ټولو قومونو نبـي دے. په دې وجه الله پاك خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تيرو ټولو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام ټولو معجزو مجموعه جوړ کړے دے او خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ئې قِسما قِسم داسې بيشميره معجزے ورکړي دي، کومې چې د هرې طبقے، هرې ډلې، هر قوم او ټولو مذاهبو د طبيعت د پاره ضروري وې .(سیرتِ مُصْطَفٰے، ص۱۲ تا۱۷،ملخصًا و ملتقطاً)

د دې نه علاوه الله پاك خپل آخري نبـي، مُحَمَّدِ عَرَبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته داسې بيشميره معجزے هم ورعطا کړي دي کومو ته چې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **خصائص** وئيلے کيږي. يعنې دا هغه کمالات او مُعجِزات دي کومې چې بل نبـي او رسُول ته نه دي عطا کړے شوي. (سیرتِ مُصْطَفٰے، ص۰،ملخصًا) عُلمائے کرامو د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مُقَدَّس بدن نه ظاهر شوي ډيرې معجزے بيان کړي دي. نورو انبياؤ عَلَيْهِمُ السَّلَام به معجزے راوړلې او زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله معجزه جوړ شوے تشريف راوړے دے.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معجزے بيشميره دي، الله پاك په خپله عطا سره خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته داسې زبردست اختيار او قُوَّت ورعطا کړے دے چې د هغې اندازه څوك نه شي لګولے. ❁ د الله پاك په عطا سره خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګوتو په اشاره باندې سپوږمئ دوه ټوټے کړه، ❁ د الله پاك په عطا سره خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پريوتے لمَر را واپس کړو، ❁ د الله پاك په عطا سره خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اوبو کښې په کانړي لامبو اووهله، ❁ د الله پاك په

عطا سره خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لرګے د بلب په شان روښانه کړو، ❁ د الله پاك په عطا سره خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپلي لاړې مبارکې د مالګینو اوبو کوهي کښې توك کړې نو هغه اوبه خوږے شوې، ❁ د الله پاك په عطا سره خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو ګوتو مبارکو نه د اوبو چینې رواني کړې، ❁ د الله پاك په عطا سره خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وَنو سره خبرې اوکړې، ❁ د الله پاك په عطا سره ونې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضرې شوې، ❁ د الله پاك په عطا سره یوه پیالئ شـوده د اویاؤ صحابه کرامو د پاره کافي شو، ❁ د الله پاك په عطا سره څناورو د انسانانو په شان خبرې شروع کړې. الغرض الله پاك خپل حبیب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سر نه پښو پورې معجزه جوړ کړے رالیږلے دے. الله پاك په سیپاره 4 سورۂ نِساء آیت نمبر 174 کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ اَنْزَلْنَاۤ اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا ﴿۱۷۴﴾ (پ6،النساء:174) | مفهوم تَرجَمَۂ کنزُالایمان: اے خلقو! بیشکه تاسو ته د الله پاك له طرفه واضحه دلیل راغلو او مونږه ستاسو طرف ته روښانه نُور نازل کړو. |

اے **عاشِقانِ رسول**! الله پاك په قرآنِ مجید کښې د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ډیرو مبارکو اندامونو ذِکر کړے دے، چې د هغې نه د الله پاك د خپل محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ډیر محبت او مهرباني ظاهریږي. په سیپاره 27، سورۂ نجم آیت نمبر 11 کښې د حُضُور نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړه مبارك ذِکر دے:

| | |
|---|---|
| مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ﴿۱۱﴾ (پ27،النجم:11) | مفهوم تَرجَمَۂ کنزُالایمان: زړه دروغ اونه وئیل څه ئې چې اولیدل. |

په سیپاره 19، سورۂ شُعراء آیت نمبر 193، 194 کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| نَزَلَ بِهِ الرُّوۡحُ الۡاَمِیۡنُ ﴿۱۹۳﴾ عَلٰی قَلۡبِكَ (پ19، الشعراء:193، 194) | مفهوم تَرجَمَۂ کنزُالایمان: هغه رُوحُ الامین نازل کړو ستاسو په زړه باندې. |

په سیپاره 2، سورۂ بقره آیت نمبر 144 کښې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مخ مبارك ذِکر داسې کیږي:

| | |
|---|---|
| قَدۡ نَرٰی تَقَلُّبَ وَجۡهِكَ فِی السَّمَآءِ ۚ (پ2، البقرة:144) | مفهوم تَرجَمَۂ کنزُالایمان: مونږه وِینو ستاسو بیا بیا اسمان طرف ته مخ کول. |

په سیپاره 30، سورۂ اَلَمۡ نَشۡرَحۡ ابتدائي آیتونو کښې د حُضُور نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سینې مبارکې او ملا مبارکې ذکر څه داسې کیږي:

| | |
|---|---|
| اَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ ﴿۱﴾ وَوَضَعۡنَا عَنۡكَ وِزۡرَكَ ﴿۲﴾ الَّذِیۡۤ اَنۡقَضَ ظَهۡرَكَ ﴿۳﴾ (پ30، الم نشرح:1تا3) | مفهوم تَرجَمَۂ کنزُالایمان: آیا مونږه ستاسو د پاره ستاسو سینه فراخه نه کړه او مونږه لرې کړو ستا نه ستا هغه بوج کوم چې ستا ملا ماته کړې وه . |

په سیپاره 27، سورۂ نَجم آیت نمبر3 کښې د ژبې مبارکے ذِکر کیږي ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَمَا یَنۡطِقُ عَنِ الۡهَوٰی ﴿ؕ۳﴾ (پ27، النجم:3) | مفهوم تَرجَمَۂ کنزُالایمان: او هغوئي یوه خبره هم د خپل خواهش نه نه کوي. |

په سیپاره 25، سورۂ الدُّخان آیت نمبر58 کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| فَاِنَّمَا یَسَّرۡنٰهُ بِلِسَانِكَ (پ25، الدخان:58) | مفهوم تَرجَمَۂ کنزُالایمان: نو مونږه دا قرآن ستاسو په ژبه اسان کړو. |

# هغه ژبه کومې ته چې ټول د کُن کنجي وائي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږه هم ژبه ده او زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم مبارکه ژبه ده، زمونږ د ژبې چې څه حال دے هغه مونږ ته ښه معلوم دے، او زمونږ د نوراني آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکه ژبه څنګه ده؟ اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه فرمائي:

وہ زباں جس کو سب کُن کی کنجی کہیں

اُس کی نافذ حکومت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش،۳۰۲)

یعنې زمونږ د آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژبه مبارکه د الله پاك د تقدیر کُنجي ده. څنګه څنګه چې دا مبارکه ژبه حرکت کوي، واقعات هُم هغه شان ظاهرېږي. د دې مبارکې ژبې کمالاتو ته چې اوګورئ نو د کائنات په ګوټ ګوټ کښې د دې ژبې مبارکې حکومت دے او په داسې حکومت باندې ډېر ډېر سلام.

**اے عاشِقانِ رسول!** د حُضُورِ اَنوَر صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژبه مبارکه او د هغې د لُعابِ دَهَن (یعنې لاړو مبارکو) نه څنګه څنګه معجزات ظاهر شوي دي. راځئ چې واورو ئې:

## (1) د مبارکې ژبې په حکم ماشوم ټیك شو

د حضرت اُسامه بِن زید رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ بیان دے، فرمائي: مونږه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره حج د پاره را وتلي وو، چې کله وادي رَوحا ته اُورسیدلو نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یوه زنانه اولیدله چې د دوئي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طرف ته را روانه وه، دا ئې چې اولیدله نو نبـي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپله سورلي اُودرَوَله او چې کله هغه زنانه نِزدې راغله نو عرض ئې اوکړو: یَـا رسُولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا زما بچے چې د کله نه پیدا شوے

دے نو همیشه بیمار وي، دا ئې چې واوریدل نو رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ماشوم اونیولو او خپلې مخې ته ئې کښینولو او د هغه په خُله کښې ئې لاړې مبارکې واچولې او اوئې فرمائیل: اُخْرُجْ عَدُوَّا اللّٰهِ فَاِنِّی رَسُولُ اللّٰه یعنې اے د الله پاك دُښمنه! اُوځه ځکه چې زه د الله پاك رَسُول یم. ماشوم ئې د هغه مور ته ورکړو او اوئې فرمائیل: دا واخله نور به ده ته هیڅ تکلیف نه کیږي، حضرت اُسامه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: چې کله مونږه د حج نه فارغه شو او وادي رَوحا ته را اورسیدلو نو هم هغه زنانه یوه وریته کړي چیلۍ راوړه او د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضره شوه، خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: بي بي د دې چیلۍ یو مخکښنے ورون [یعني د مخکښنۍ ښپے پتون] ما ته راکړه، هغې حاضر کړو بیا ئې اوفرمائیل: دویم مخکښنے ورون هم راکړه، هغه ئې هم حاضر کړو، بیا ئې اوفرمائیل: بل مخکښنے ورون ئې هُم راکړه، هغې [زنانه] عرض اوکړو: یَا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم! د چیلۍ خو دوه مخکښني ورنونه [یعني دوه مخکښني پتونان] وي، او هغه ما حاضرې کړي دي، [یعني نور دوه خو وروستي پتونان وي] دا ئې چې واوریدل نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اے زنانه! که ته خاموشه پاتې شوي وے یعني دا دِ نه وے وئیلي چې مخکښني پتونان خو دوه وي نو تر څو چې ما وئیلے تا به ما ته مخکښني پتونان راکولے. (الخصائص الکبریٰ، باب ما وقع فی حجة الوداع۔۔الخ، ۲/۶۰)

## (2) د ماشوم سوَزیدلے لاس روغ شو

**اے عاشِقانِ رسول!** راځئ چې یوه بله واقعه واورو! حضرت محمد بِن حاطِب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خپلې مور اُمِّ جمیل رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه روایت کوي چې زما مور ماته اووئیل: ما ته ځان سره د حبشے نه راوستلې نو چې کله مدینے منورے ته د یوے ورځې فاصله پاتې شوه نو ما یو ځائے کښې طعام پخولو، په دې دوران کښې لرګي ختم شو، زه په لرګو پسې

لاړم نو تا لوښے راښکودو او هغه لوښے په تا را غوزار شو او ستا لاس اوسوزیدلو. ما ته د خوږ او مهربان آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر کړې ، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستا په لاس باندې خپلې لاړې مبارکې اولګولې او په څه ئې دم کړې، ما چې ته را اوچت کړې نو ستا لاس بالکل روغ شوے وو. (ابن حبان، کتاب الجنائز، باب المریض۔۔الخ، ۴/۲۷۳، حدیث:۲۹۶۶)

## (3) وَنه په قدمونو کښې

یو اَعرابِي (یعنې د عربو د کلي یو اوسیدونکي) د رَسُولِ اَکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې عرض اوکړو: یَـا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما اسلام قبول کړے دے، تاسو داسې یوه نښه اوښائې چې زما یقین مضبوط کړي. دائې چې واوریدل نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: څه لیدل غواړې؟ عرض ئې اوکړو: تاسو دا وَنه دلته را اوبلئ، ارشاد ئې اوفرمائیلو: لاړ شه، دې وَنې ته اووایه تا د الله پاك رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غواړي. اَعرابي چې وَنې ته ځنګه دا خبره اوکړه، هغه وَنه یو طرف ته ښکته شوه او بیا ښي او کیڼ طرف ته مخکښې وروسته شوه، خپلې جرړې ئې ماتې کړې او په جرړو راښکودو راښکودو ئې زمکه خیرله او د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخې ته اودریدله عرض ئې اوکړو: اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ یَارَسُوْلَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! اعرابي چې دا اولیدل نو اوئې وئیل: یَـا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! بس دا زما د پاره کافي دي، بیا خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وَنې ته حکم اوکړو: بیرته لاړه شه، هغه [وَنه] بیرته لاړه. دا ئې چې اولیدل نو اَعرابي عرض اوکړو: یَـا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته اِجازت راکړئ چې زه ستاسو لاس او ښپې مبارکې ښکل کړم؟ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته اجازت ورکړو او د لاس او ښپو ښکلولو سعادت ئې حاصل کړو. بیا اَعرابي عرض اوکړو: تاسو ما ته اجازت راکړئ چې زه تاسو ته سجده اوکړم؟ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ

وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: نه! د الله پاك نه سِوا بل چا ته سجده نشته.

(الخصائص الکبریٰ، باب الآیۃ فی قدوم الاعرابی، ۲/۵۹)

## (4) د دُعا په برکت ئې اِیمان قبول کړو

**اے عاشِقانِ رسول!** راځئ چې یوه بله واقعه واورو! حضرت ابُوهُرَیره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زما مور لا اسلام نه وو قبول کړے، ما به ورته د اسلام دعوت ورکولو خو هغې به نه منلو ، یوه ورځ ما خپلې مور ته د اسلام دعوت ورکړو نو هغې د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شان کښې داسې خبره اوکړه چې ما نه شوه اوریدلے، زه په منډه د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې په ژړا حاضر شوم، رَسُولِ اَکرَم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رانه تپوس اوکړو: ابُوهُرَیره څه اوشو؟ ما ورته ټوله خبره بیان کړه او عرض مې اوکړو: یَا رسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما د مور د پاره د هدایت دُعا اوکړئ، مهربان آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې دُعا اوفرمائیله: **اَللّٰهُمَّ اهْدِ اُمَّ اَبِي هُرَيْرَةَ** یـا الله! د ابُوهُرَیره مور ته هدایت ورکړې. دا دُعا مې چې واوریدله نو په ډیره خوشحالئ بیرته په منډه ورغلم، چې دروازے ته اورسیدم نو دروازه بنده وه، چې زما مور زما د ښپو آواز واوریدلو نو په اوچت آواز ئې اووئیل: ابُوهُرَیره! صبر اوکړه! چې زه اودریدم نو ما د اوبو اَوُوښتلو آواز واوریدلو، زه پوهه شوم چې مور مې غُسل کوي، هغې غُسل اوکړو او زر زر ئې دروازه بیرته کړه، او اوئې وئیل: اے ابُوهُرَیره! ګواه شه چې"**اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ**"یعني زه ګواهي ورکووم چې د الله پاك نه سِوا بل څوك د عبادت لائق نشته او محمد صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاك بنده او رسول دے. دا مې چې واوریدل نو دا ځل د ډیرې خوشحالئ نه په ژړاشوم او په منډه منډه د خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شوم او ټوله واقعه مې ورته عرض کړه نو سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاك شُکر ادا کړو، اَو اُوئې فرمائیل: ډیر ښه اوشو.

(مسلم، کتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل أبي هريرة، ص١٠٣٩، حديث:٦٣٩٦)

## (5) چې دُعا ئې اوکړه نو په مال او اولاد کښې ئې برکت پیداشو

راځئ چې یوه بله واقعه واورو! حضرت اُمِّ سُلَیم رَضِیَ اللهُ عَنْهَا خپل ځوئ حضرت اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ راوستو او د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضره شوه، عرض ئې اوکړو: یَـارسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا زما ځوئ ستاسو خادم دے، د ده د پاره دُعا اوفرمائې، نبـي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه: **اَللّٰهُمَّ اَكْثِرْ مَالَهٗ وَوَلَدَهٗ وَبَارِكْ لَهٗ فِيْمَا اَعْطَيْتَهٗ** یَا الله! د اَنَس مال او اولاد زیات کړې او څه چې تا ده ته ورعطا کړي دي، په هغې کښې برکتورکړې. (ترمذی، کتاب المناقب، باب مناقب أنس بن مالك رضي الله عنه، ٥/ ٤٥٠، حديث:٣٨٥٥)

د خوږ آقا مکي مدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا دُعا داسې قبوله شوه چې حضرت اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په بصره کښې هغه آخري صحابي وو چې وفات شو.

د حضرت اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عمر د سلو کالو نه زیات شوے وو. وئیل کیږي چې د دوئي د اولاد شمیر د سلو نه زیات وو. د حضرت اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ یو باغ وو، عامو باغونو به په کال کښې یو ځل میوه نیوله او د حضرت اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ باغ به په کال کښې دوه ځله میوه نیوله، او د هغوئي په باغ کښې یو ګل وو، چې د هغې نه به د مشکو په شان خوشبو راتله. (مرقاة شرح مشكوة، ١٠/٢٩٢ تحت الحديث:٥٩٥٢)

## د لاسو مبارکو معجزات

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژبے مبارکے یو څو معجزات واوریدل، راځئ چې اوس د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو لاسونو مُتَعَلِّق قرآني آیتونه او د هغې نه پس د مبارکو لاسونو یو څو معجزے هم

واورو:

په سیپاره 8 سورۂ اَنفال، آیت نمبر 17 کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ مَا رَمَیْتَ اِذْ رَمَیْتَ وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى ۚ (پ9، الانفال:17) | مفهوم تَرجَمَۂ کنزُالایمان: او اے محبوب! هغه خاوره کومه چې تاسو اوویشتله ، هغه تاسو نه وه ویشتلي بلکه الله ویشتلي وه . |

## (1) د لاسونو مبارکو بَرَکت

صحابیٔ رسول حضرت عُتبه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چا چې د اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په دور کښې مُوصَل ښار فتح کړے وو، د دوئي بي بي اُمِّ عاصِم رَضِیَ اللهُ عَنْها بیان کوي چې د حضرت عُتبه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مونږه څلور بیبیاني وې، په مونږه کښې به هرې یوې د زیاتې او ښے خوشبو لګولو کوشش کولو چې د بلې نه زیاته خوشبوداره شو. او حضرت عُتبه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به په کُوره کښې تیل لګول خو نوره څه خوشبو به ئې نه لګوله، د دې باوُجود به د حضرت عُتبه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د بدن نه هر وخت زمونږ نه زیاته ښکلې خوشبو راتلله. چې کله به حضرت عُتبه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بهَر وتلو نو خلقو به وئیل: مونږه د حضرت عُتبه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ لګولې خوشبو نه زیاته ښه خوشبو نه ده بوئي کړې. یوه ورځ ما د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه تپوس اوکړو: چې مونږه د ښه خوشبو لګولو پوره کوشش کوو، خو زمونږ نه زیات خوشبوداره تاسو ئې. د دې څه وجه ده؟ هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ جواب راکړو: د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دور کښې زما په بدن باندې نَنَکۍ راختلې وے، زه د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شوم. او د دې بیمارۍ شکایت مې اوکړو. رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته ارشاد اوفرمائیلو: جامے اوباسه. ما د خپل شرمګاه [یعني فرض پردے] نه علاوه جامے اُووِیستلې او خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو لاسو مبارکو په دواړو ورغوو باندې پوک کړو او زما په بدن باندې به ئې راښکلو،

د هغه وخت نه زما د بدن نه خوشبو راځي. (معجم صغیر، ۳۹/۱)

## (2) عطائے مُصطفٰی

اے **عاشِقانِ میلاد**! راځئ چې د سرکارِ دوعالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو لاسو د برکت یوه بله واقعه واورو:

صحابـئ رسول حضرت جابِر بِن عبدُ الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زه د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره غزوهٔ "ذَاتُ الرِّقَاع" ته تلے ووم، چې کله بیرته راتلو نو زما اوښ ډیر کمزورے وو، په دې وجه به زه بار بار د لښکر نه شا ته پاتې کیدم، په یو مقام باندې حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائیل: اے جابر! څه خبره ده چې ته شا ته پاتې کیږې؟ ما عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما اوښ کمزورے دے، هغه د لښکریانو د سورلو سره برابر نه شي تلے، حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دا کښینوه، ما اوښ کښینولو نو اوئې فرمائیل: د یوے ونې نه څانګه راماته کړه،او ماله ئې راکړه، ما یوه څانګه د هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په خدمت کښې پیش کړه، بیا ئې اوفرمائیل: اوس ته په اوښ کښینه، زه کښیناستم. حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوښ په هغه څانګه درې خلور ځله اووهلو، بیا هغه اوښ دومره تیز شو چې د مجاهدینو ښو ښو طاقتورو اوښانو نه به مخکښې کیدلو، ما به د اوښ رفتار کم کړلو او د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره به یو ځائے تلم، او د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره به مې خبرې کولې، ناڅاپه حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اے جابِره! ته دا اوښ په ما را خرڅوے؟ ما عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه دا اوښ بے پیسو تاسو ته هدیه کووم، اوئې فرمائیل: نه، را خرڅ ئې کړه. ما عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! بیا د دې قیمت هم تاسو پخپله اووائې، اوئې فرمائیل: په یو درهم ئې اخلم، ما عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا خو ډیر کم قیمت دے، حُضُور صَلَّى

اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ښه دوه درهمه واخله، ما عرض اوکړو: دا هم کم دے، حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قیمت زیاتولو زیاتولو تردې پورې چې یو اوقیه (یعنې د 40 درهمو برابر) ته اورسیدلو، ما عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په دې قیمت باندې تاسو راضي ئې؟ اوئې فرمائیل: آو، زه راضي یم، ما عرض اوکړو: بس دا اوښ ستاسو شو، حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دا اوښ ما واخستلو، چې کله مونږه مدینے منورے ته اورسیدلو نو حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل کور مبارك ته تشریف یوړلو او زه خپل کور ته راغلم، صبا له ما هغه اوښ بوتلو، او اوښ مې د مسجدِ نَبَوي دروازے سره اوتړلو او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شوم، او کښیناستم، چې کله حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جمات نه بهَر ته تشریف راوړو نو تپوس ئې اوکړو: دا اوښ ښنګه ولاړ دے؟ صحابۀ کرامو عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا اوښ جابِر را وستے دے، اوئې فرمائیل: جابِر چرته دے؟ چې کله زه حاضر شوم نو حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اے زما وراره! دا اوښ بوځه، دا ستا دے، بیا ئې حضرت بِلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته اوفرمائیل: جابِر بوځه او ده ته یوه اوقیه ورکړه، حضرت بِلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ما ته د یو اوقیه (یعنې 40 درهمو) نه څه زیات راکړل، د هغه ورځې نه زما په مال کښې دومره برکت پیدا شو چې زه ډیر لوئے مالدار جوړ شوم.

(سیرت ابن ہشام، غزوۃ ذات الرقاع فی سنۃ اربع، ص۳۸۴)

**اے عاشِقانِ رسول!** د دې معجزو نه علاوه نورې هم ډیرې معجزے د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لاسو مبارکو نه ظاهرې شوې دي. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې د چا په مخ باندې خپل نوراني لاس مبارك راښکلو نو د هغه مخ به نُور نُور شو، راځئ چې دغه شان درې معجزے نورې واورو:

## (3) کور به روښانه شو

(۱) حضرت اَسِید بِن اَبِـی اُناس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو ځل زما په مخ او سینه باندې خپل لاس مبارك راښکلو. د هغې بَرَکت دا ښکاره شو چې کله به زه یو تورتم تِیاره کور ته داخلید شوم، نو هغه کور به روښانه شولو.

(الخَصائِصُ الکُبْرٰی،۲/۱۴۲ و تاریخ دمشق،۲۰/۲۱)

## (4) د لاس مبارك بَرَکت

(۲) حضرت عائذ بِن سعید جَسري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د رَسُولُ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: یَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو زما په مخ باندې خپل لاس مبارك راښکاږئ او د بَرَکت دُعا اوفرمائې. حُضُورِ اَنوَر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې اوکړل (یعني د هغه په مخ ئې لاس مبارك راښکلو او د برکت دُعا ئې اوفرمائیله) د هغه وخت نه به د حضرت عائذ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مخ تروتازه او نوراني اوسیدلو.

(الاصابه فی تمییز الصحابه،عائذ بن سعید ،۳/۴۹۳،رقم ۴۴۶۲)

## (5) مخ به ئې ځلیدلو

(۳) د حضرت اَبُو سِنَان عبدي صباحي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په مخ باندې رَسُولُ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل لاس مبارك راښکودے وو، د هغوئي عمر 90 کاله شوے وو خو بیا به هم د هغوئی مخ به د بجلئ په شان ځلیدلو. (الاصابه فی تمییز الصحابه،ابو سنان العبدی ثم الصباحی ،۷/۱۶۴،رقم۱۰۰۲۶)

## د مبارکو سترګو معجزے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو لاسونو یو څو معجزے واوریدې ، راځئ چې اوس د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترګو مبارکو مُتَعَلِّق آیت قرآني او د سترګو مبارکو یو څو معجزے هم واورو:

په سیپاره 27، سورۂ نجم آیت نمبر 17 کښې د سترګې مبارکې ذِکر کیږي:

| مفهوم تَرجَمَۂ کنزُالایمان: سترګه نه کوم طرف ته واوښته او نه د حد نه تیره شوه. | مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ﴿۱۷﴾ (پ27، النجم:17) |
|---|---|

روایت دے چې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سترګې مبارکې غټې او په قدرتِ اِلٰهي د رانجو په شان تورې وې، بانړه مبارك ئې اوګږده وو، او د سترګو په سپین والي کښې ئې نرئ سرې کرښې وې، د هغې سره ئې حُسن نور هم زیات شوے وو. خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې په کوم کس مبارك نظر واچولو نو د هغه قِسمَت به ئې رابیدار کړو. چنانچه

## (7) چې کله راغلې د رحمت په جوش کښې د هغوئي سترګې

حضرت سَیِّدُنا شیبه بِن عُثمان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د خپل اِیمان راوړلو واقعه بیانوي، فرمائي: چې کله نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په غَزوۂ حُنَین کښې شریك شو نو زما په زړه کښې خیال راغلو چې زما پلار او تره حضرت علي او حضرت حمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قتل کړي وو، ولے نه چې نن زه د هغوئي نه بدل واخلم او د هغوئي نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شهید کړم، زه په دې اراده د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا ته نِزدې شوم او حمله کولو والا ووم چې د اور یوه شُعله د بجلئ په شان زما طرف ته را مخکښې شوه، زه د هغې [شُعلے] نه اُویَریدلم او شا ته اوتښتیدم، په دې کښې په ما باندې د رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نَظرِ کرم پریوتلو، اوئې فرمائیل: اے شیبه! بیا حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل لاس مبارك زما په سینه کیښودو، نو الله پاك شیطان زما د زړه نه اوویستلو، چې ما د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارك ته اوکتل نو حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته د خپل سماعت و بصارت (یعني اوریدلو او لیدلو) نه زیات محبوب شو. (دلائل النبوة لابي نعيم، ۱۱۲/۱، رقم: ۱۴۴)

## (2) د سینے رازونه د مصطفٰی په نظر کښي

حضرت عبدُ الله اِبنِ عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: یو انصاري صحابـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښي حاضر شو عرض ئي اوکړو: یَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه ستاسو نه د یو څو خبرو تپوس کول غواړم. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: کښینه. بیا د ثقیف قبیلے یو کس راغلو او عرض ئي اوکړو: حُضُور! زه ستاسو نه د یو څو خبرو تپوس کول غواړم. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اَنصاري ستا نه مخکښي راغلے دے. انصاري صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عرض اوکړو: حُضُور! دا یو مُسافِر دے او د مسافر حق زیات وي، تاسو اوَّل د دوئي د سوالونو جواب ورکړئ. رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ثَقَفـي طرف ته متوجه شو، او اوئي فرمائیل: که ته غواړې چې زه تا ته اووایم چې ته زما نه څه تپوس کوے او که غواړې نو سوالونه اوکړه، زه به ئي جوابونه درکړم؟ هغه عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه چې د کوم سوالونو د پاره حاضر شوے یم، ما ته د هغې جوابونه ارشاد اوفرمائې. اوئې فرمائیل: ته زما نه د رکوع، سجود، لمُونځ او روژو په باره کښې تپوس کول غواړې. هغه کس عرض اوکړو: په هغه ذات مې دِ قَسَم وي! چا چې تاسو په حق سره رالیږلي ئې! تاسو زما د زړه خبره بیانولو کښې هیڅ خطا هم اونکړه . بیا نبـي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته جوابونه ورکړل. بیا هغه ثقفـي صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پاڅیدلو اولاړو.

د هغې نه پس نبـي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اَنصاري صحابـي ته متوجه شو او هغه ته ئې اوفرمائیل: که ته غواړې چې زه تاته اُووائم چې ته زما نه څه سُوال کولو له راغلے ئې او که غواړې نو زما نه سوالونه اوکړه، زه به ئي جوابونه درکړم؟ هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! نه. تاسو پخپله ارشاد اوفرمائے چې زه تاسو نه څه تپوس کولو له حاضر شوے یم؟ ارشاد ئې اوفرمائیلو: ته زما نه دا تپوس

کول غواړې چې کله حاجي د خپل کور نه اوځي نو د هغه د پاره څه ثواب دے؟ او چې کله هغه رَمـيِ جِمار کوي [یعنې شیطانان په کانړو ولي] نو د هغه د پاره څه ثواب دے؟ او چې کله خپل سر خرئي نو د هغه د پاره څه ثواب دے؟ او چې کله هغه د حج آخري طواف پوره کوي نو د هغه د پاره څه ثواب دے؟

دا ئې چې واوریدل نو هغه انصاري صحابـي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په هغه ذات مې دِ قَسَم وي! چا چې تاسو په حق سره را لیږلي ئې! تاسو زما د زړه خبره بیانولو کښې هیڅ خطا هم اُون کړه . بیا نبـي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته د هغه د خبرو جوابونه ورکړل. (ابن حبان، کتاب الصلاۃ ، باب وصف بعض الصلاۃ ، ۱۸۱/۳، حدیث:۱۸۸۴)

## (3) د بلاګانو نه د حِفاظت وَظِیفه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! راځئ چې یوه بله واقعه واورو: حضرت اَبُو هُریره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: زه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَمَضان د فطرے [یعنې سر سائے] په حفاظت مقرر کړے ووم. یو کس راغے او د غَلَّے نه ئې لَپې ډکول شروع کړل، ما اونیولو، او ورته مې اووئیل: زه به تا رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له بوځم. هغه اووئیل زه محتاجه یم، زما بچي دي او زه سخت حاجت مند یم. حضرت اَبُو هُریره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: ما هغه پریښودلو. چې کله سحر شو نو نبـي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله اوفرمائیل: اے اَبُو هُریره! نن شپه ستا د قیدي څه اوشو. ما عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه د سخت حاجت او بچو عُذر اوکړو، ما پرې رحم اوکړو او آزاد مې کړو. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: هغه تا ته دروغ وئیلي دي، هغه به بیا راځي. حضرت اَبُو هُریره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: زما د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فرمان مبارك یقین وو چې هغه به بیا راځي، زه په دې انتِظار کښې ووم چې بیا به راځي، هغه

بیا راغے او د غلّے نه ئې لَپې ډکول شروع کړه، ما هغه اونیولو او ورته مې اووئیل: اوس خو به دِ د رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې ضرور پیش کووم. هغه اووئیل: ما پرېږدوه، زه محتاجه یم په ما باندې د بچو سخت بوج دے. زه به بیا نه راځم، زما پرې رحم راغے او آزاد مې کړو. چې کله سحر شو نو رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائیل: اے اَبُوهُرَیره! ستا د قیدي څه اوشو؟ ما عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه د سخت حاجت او بچو عُذر اوکړو، ما پرې رحم اوکړو او آزاد مې کړو. خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: هغه تا ته دروغ وئیلي دي، هغه به بیا راځي. زما پوخ یقین وو چې هغه به بیا راځي، زه په دې انتِظار کښې ووم چې هغه بیا راغے او د غلّے نه ئې لَپې ډکول شروع کړل، ما هغه اونیولو او ورته مې اووئیل: اوس خو به دِ د رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې ضرور پیش کووم. هغه اووئیل: ما پرېږدوه، زه تا ته یو څو داسې کلمے زده کووم چې الله پاك به د هغې په برکت تا ته نفع درکړي. چې کله اوده کیږې نو آیةُ الکُرسی لوله، الله پاك به ستا حفاظت کوي او د سحره پورې به شیطان ستا خوا ته نزدې نه شي راتلے. ما هغه پرېښودو، چې کله سحر شو نو ما ته رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ستا د قیدي څه اوشو؟ عرض مې اوکړو: یَـا رَسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه ما ته داسې کلمات زده کړل چې د هغې په برکت به الله پاك ما ته نفع راکوي، حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: هغه دے خو دروغژن خو تا ته ئې رښتیا وئیلي دي. آیا تا ته معلومه ده چې تا درې ورځې د چا سره خبرې کولې؟ ما عرض اوکړو: نه. ارشاد ئې اوفرمائیلو: دا شیطان دے. (بخاری، کتاب الوکالة، باب اذا وکل رجلا... الخ، رقم: ۲۳۱۱، ۲/ ۸۲)

**اے عاشقانِ رَسُول!** غور اوکړئ! د بُخاري شریف د دې حدیثِ پاك نه معلومه شوه چې زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك نظر په تیره شوي زمانه کښې کیدونکي

واقعات هم ويني او راروانه زمانه کښې کيدونکي واقعات هم ويني. د دې سره سره دا هم معلومه شوه چې د آيةُ الـكُرسئ بیشمیره فضائل و برکات دي، ❁ که د شپې اوده کيدلو نه مخکښې آيةُ الـكُرسي اولوستلے شي نو ټوله شپه به شيطان نِزدې نه شي راتلے، ❁ د بلاګانو او آفتونو نه به حفاظت کيږي، ❁ دغه شان د لمُونځونو نه پس آيةُ الـكُرسي لوستلو باندې د جنت زيرے دے، ❁ د شپې اُوده کيدلو وخت کښې وئيلو باندې د خپل ځان او د ګاونډيانو د حفاظت زيرے دے. (شعب الایمان، التاسع عشر من شعب الایمان، فصل فی فضائل السور والآیات، ۲/۴۵۸، الحدیث: ۲۳۹۵) ❁ که د اُوده کيدلو په وخت کښې آيةُ الـكُرسي اولوستلے شي نو ټوله شپه به کور د غلو، او ناڅاپه آفتونو نه محفوظه اوسي، ❁ آيةُ الـكُرسي لوستونکے د بدو خوبونو او پیریانو د شر نه محفوظه اوسي، ❁ د هر لمَانځه نه پس د آيةُ الـكُرسي لوستلو والا آخره خاتمه به په خير وي.

## د لمُونځونو ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د هر لمَانځه نه پس به د آيةُ الـكُرسي لوستلو سعادت هله حاصليږي چې مونږه پابندئ سره لمُونځ ادا کوو. افسوس زمونږ يو شمير خلق دي چې د جَمعې سره لمُونځ نه ادا کوي او دغه شان يو شمير خلق دي چې مَعَاذَ الله! لمُونځونو نه کوي او دغسې ځان پخپله د دوزخ حقدار جوړوي. افسوس! الله پاك مونږ ته په شپه او ورځ کښې بیشمیره نعمتونه راکوي خو مونږ ته په پوره ورځ کښې صرف پينځه وخته د الله پاك په بارګاه کښې د سجدے کولو توفيق نه نصيب کيږي. **ياد ساتئ!** په هر عاقِل بالغ مسلمان باندې په شپه ورځ کښې پينځه وخته لمُونځ فرض دے، ځوك چې فرض لمُونځ نه مني هغه د دِينِ اسلام نه وتلے دے. اګر که د هغه نوم او د هغه نور کارونه د مسلمانانو والا وي. او ځوك چې لمُونځ فرض مني خو که يو لمُونځ هم قصداً پريږدي نو هغه سخت فاسِق، ګنهګار او د دوزخ حقدار دے. اعلٰی

حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: چا چې قصداً د یو وخت لمُونځ پریښودو، هغه د زرګاؤ کلونو په جَهَنَّم کښې د اوسیدلو حقدار شو، تر څو پورې چې توبه اونکړي او د هغې قضا رانه وړي. (فتاوی رضویه ،ج۹ص،۱۵۸) د دې نه اندازه اولګوئ چې کله یو لمُونځ قَصداً پریښودو باندې زرګاؤ کلونه په دوزخ کښې د اوسیدلو سزا ده، نو کوم کس چې د ټولې ورځې لمُونځونه قَصداً پریږدي او هډو لمُونځ نه ادا کوي نو هغه به څومره په سخت عذاب کښې اخته کیږي. **یاد لرئ!** قَصداً لمُونځ پریښودونکي نه خو پخپله شیطان هم پناه غواړي، چنانچه

منقول دي: یو کس په ځنګل کښې روان وو، شیطان هم د هغه سره ملګرے شو، هغه کس ټوله ورځ کښې یو لمُونځ هم ادا نکړو تر دې پورې چې شپه شوه، شیطان د هغه نه اوتښتیدو، هغه کس حیران شو او د تښتیدلو تپوس ئې ترینه اوکړو: شیطان اووئیل: ما په ټول عُمر کښې صرف یو ځل آدم عَلَيۡهِ السَّلام ته د سجدے کولو نه اِنکار کړے وو نو زه مَلعُون [یعني لعنتي] شوم او تا نن پینځه لمُونځونه پریښودل، زه ویریږم چې چرته په تا قهر نازل شي نو زه په هغې کښې اونه نښلم. (دُرَّةُالنّاصِحين،ص۱۴۲،ملخصاً)

راځئ چې نن په دې مُقَدَّسه شپه کښې وعده اوکړو چې **د نن نه پس به زما یو لمُونځ هم نه قضا کیږي.**

**اے عاشِقانِ رسول!** اوس د دې شپې په مُناسبَت سره د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشریف آورئ ذِکر کوو. د ټولو نه اوَّل د آمَدِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یوه لویه حیرانوونکي واقعه واورئ:

## د کِسرٰی خوب

د مخزوم بِن هانـي مخزومي والِد کوم چې د 150 کالو پورې ژوندے وو، دا حکایت

بیانوي چې د سرورِ اَنبِیاء، محبوبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د پیدائش په شپه د ساساني خاندان مشهور بادشاه کِسرٰی محل په کړَزیدو او رِقیدو شو او د هغې 14 محرابونه [کوم چې په دیوالونو کښې د تاخ په شان جوړ شوي وو هغه] مات شو او په زمکه اوغورزیدل. د اِیران د زرګاؤ کالو نه بله آتش کده ېځپله ناڅاپه مړه شوه، د بُحیره ساوه اوبه اوچې شوې او کسرٰی یو د پریشانئ خوب اولیدلو کوم چې هغه خپل قاضي ته بیان کړو. هغه [خوب] اولیدلو چې سرکش اُوښانو پسې تیز رفتاره عربي اسونه دي چې په دریائے دجله را پورې وتل او د ده په مُلك کښې خواره شو. دې خوب کِسرٰی او نور خلق سخت اُویَرول. د کِسرٰی نائب نُعمان بِن مُنذِر عبدُ المَسیح غسقاني ئې سَطیح کاهن ته اولیږلو، چې د دې غټې مُعاملے مُتَعَلِّق ترینه معلومات حاصل کړي. سَطِیح کاهِن په مُلكِ شام کښې اوسیدلو او په کهانت کښې ډیر مشهور وو، چې کله عبدُ المَسیح د هغه خوا ته راغے او هغه لا د هغه [کاهِن] د کور نه بهَر وو چې سَطیح هغه ته غږ اوکړو او د خپل کهانَت په زُور ئې ورته هغه ټول هر څه بیان کړل، چې د هغې خبر لا هغه نه وو ورکړے. سَطیح کاهِن اووئیل: اے عبدُ المَسیح! ته په اوښ سور زما خوا له راغلې او بیشکه ډیر اوګږد سفر دِ اوکړو. د بنـي ساسان بادشاه ته رالیږلے ئې، چې ته د محل د زلزلے، د اور مړکیدو او د خوب په باره کښې تپوس اوکړې: په سرکشو اُوښانو پسې عربي اسونه دي چې په دریائے دجله را پورې وتل او د ده په مُلك کښې خواره شو.

بیا هغه اووئیل: اے عبدُ المَسیح! چې کله د تلاوت کثرت شي او صاحِبِ عَصَا (یعني مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم) ظاهِر شي او وادي سما کښې اوبه اوبهیږي او بُحیره ساوه اوچ شي. او په فارِس کښې اور مړ شي نو بیا مُلكِ شام د سَطیح د پاره شام پاتې پاتې نه شي، څومره محرابونه چې د محل نه راغوزار شوي دي، دومره بادشاهان به نور پرله پسے

حکومت کوي، بیا به د دوئي سلسله ختمه شي. د کِسریٰ خوب د هغه د بادشاهئ د ختمیدو نښه ده، د دې د اسلام او د اسلام والؤ د مملکت جوړیدو او د دې په ښارونو کښې د عربو د داخلیدو علامت دے. (مولد رسول الله و رضاعه لابن کثیر، ص۲۲ ملخصاً)

## د آمدِ مُصطفٰی مختَلِف ادوار

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! څنګه چې د لمَر راختلو نه مخکښې ستوري پټ شي، د سحر سپین والے په ختمیدو شي او بیا د مشرق نه لږ سُور والے راښکاره شي، او د هغې نه فوراً پس لمَر را اُوخیژي او په ټوله دُنیا کښې خپله رنړا خوره کړي، په اصل کښې د ستورو پټیدل، د سحر سپین والے ختمیدل او د دې نه پس سُور والے راتلل د دې خبرې نښه ده چې لمَر راختو والا دے، دغه شان چې کله د خوږ آقا، آفتابِ رِسالت، ماهتابِ نَبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشریف راوړلو وخت نزدے راغے نو په دُنیا کښې داسې عجیبه عجیبه واقعات ښکاره شو چې هغه واقعاتو دا خبر ورکولو چې اوس د کفر تِیارے او د بے وَسئ ورځې ختمیدو والا دي، او د هغه واقعاتو نه دا اندازه لګیدله چې د ظُلم و سِتَم دور ختمیدو والا دے او دا معلومیدله چې اوس د غریبانو بدې ورځې ختمیدو والا دي ځکه چې د بے وسو او بے کسو آسرا جوړیدونکے او هغوئي ته د ظُلم و سِتم نه نجات ورکوونکے مکِّـی مَدَنـی مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړ والا دے. په مختلِفو طریقو سره د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتلو خبرونه او نښې دې دُنیا ته اوښودلے شوے، په بعضو کښې بالکل واضحه نښې ښکاریدلې او په بعضو کښې دا اِشارے ملاویدلې چې د الله پاک آخري نبي مُحَمَّد عَرَبِی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړو والا دے. الغرض د وِلادت باسعادت پورې د زیرو او خوشخبرو دا سلسله دغه شان جاري وه.

د سرکار آمد مرحبا د نامدار آمد مرحبا د نُور آمد مرحبا

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د سردار آمد | مرحبا | د ښکلي آمد | مرحبا | د مکّی آمد | مرحبا |
| د مُختار آمد | مرحبا | د مدني جانان آمد | مرحبا | د مدنی آمد | مرحبا |
| د صادِق آمد | مرحبا | د یٰسٓ آمد | مرحبا | د رحیم | مرحبا |
| د مُزَّمِّل آمد | مرحبا | د مُدَّثِّر آمد | مرحبا | د طٰهٰ آمد | مرحبا |

مرحبا یا مصطفٰی مرحبا یا مصطفٰی مرحبا یا مصطفٰی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د وِلادتِ مصطفٰی نه مخکښې د انبیائے کرامو زیارت او د هغوئي زیرے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! چې کله د حضرت بـي بـي آمنه رَضِیَ اللہ عَنۡہا حمل شریف شروع شو نو د نوراني آقا، مَکي مدَني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنیا ته تشریف راوړلو نه مخکښې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم والده حضرت آمنه صاحبه رَضِیَ اللہ عَنۡہا ته په مختلفو میاشتو کښې د 9 انبیائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام زیارت اوشو، هر یو نبـي عَلَیۡہِ السَّلَام هغې رَضِیَ اللہ عَنۡہا ته د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُتَعَلِّق څه نه څه خبر ورکړو. حضرت علامه عبدُ الرحمان اِبنِ جَوزي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي:

❁ چې کله د حُضُور پُرنُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پیدائش وخت نِزدې شو نو حضرت آدم عَلَیۡہِ السَّلَام د بي بي آمنه رَضِیَ اللہ عَنۡہا په خوب کښې تشریف راوړو او د خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د راتلو په باره کښې ئې خبر ورکړو. ❁ بیا حضرت اِدرِیس عَلَیۡہِ السَّلَام تشریف راوړو او د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فضل و کرم او اعلٰی مرتبو خبر ئې ورکړو، ❁ بیا حضرت نُوح عَلَیۡہِ السَّلَام تشریف راوړو هغوئي اوفرمائیل، چې ستاسو شهزاده د فتح و نُصرت مالِك دے، ❁ بیا حضرت اِبراهیم عَلَیۡہِ السَّلَام تشریف راوړو او د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِزَّت و بُزُرګئ خبر ئې ورکړو، ❁ بیا حضرت اسماعیل عَلَیۡہِ السَّلَام تشریف راوړو او وئې فرمائیل چې کومه هستي ستاسو کره تشریف راوړونکے دے، هغه د

ډيرو ښو اخلاقو مالك او ډير عِزَّت والا دے، ❁ بيا حضرت مُوسٰی عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړو او د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِزَّت او اوچتې مرتبے مُتَعَلِّق ئې اُوفرمائيل، ❁ بيا حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د بي بي آمنه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خوب كښې تشريف راوړو او اوئې فرمائيل:چې كومه هستي تشريف راوړونكے دے، هغه د مقامِ محمود، حَوضِ كَوثر، لِوَاءُالْحَمْد او شفاعَتِ عُظمٰـی مالِك دے، ❁بيا حضرت سُلَيمان عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړو او اوئې فرمائيل چې آخري نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو كره تشريف راوړونكے دے، ❁بيا حضرت عِيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام په خوب كښې جلوه ګر شو او اوئې فرمائيل چې ستاسو شهزاده رښتيا وئيلو والا او د سيدها دِين يعنې كوم چې په ټولو دِينونو باندې غالب دے، د هغه دِين مالِك دے. ❁الغرض هر يو نبـي عَلَيْهِ السَّلَام حضرت بي بي آمنه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته دا زيرے وركړو چې تاسو د دُنيا او آخرت د سردار نه حامله ئې او چې كله هغوئې پيدا شي نو د هغوئې نوم مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كيږده.

(رسائل میلاد مصطفیٰ، ص۲۲۵ ملخصا)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اِيمان نه ډك زيري

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د رسولِ كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيدائش مبارك نه مخكښې د حضرت بي بي آمنه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د پاره هره شپه نوي بركتونو او د خوشحالو پيغامونه راتلل، په دغه شپو كښې حضرت بي بي آمنه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته عجيب كيف و سُرُور حاصل شو، ❁ هغوئې ته د مراد او آرزو پوره كيدلو زيرے وركړے شو، ❁ هغوئې ته اووئيل شو چې ستاسو كره هغه هستي راتلونكے دے كوم چې حمد وئيلو والا او شُكر ادا كولو والا دے، ❁ حضرتِ آمنه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د اسمان نه د فرښتو تسبيح واوريده، ❁ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دا اوفرمائيل چې اے آمنه! د مَدح او عِزَّت د

مالك په وجه خوشحاله شه، ❁ بیا خوشحالي او برکت مکمل شو او یو داسې نُور اوپړقیدلو چې هغه بیا کله کم نه شو، ❁ فرښتو د بي بي آمنه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه د طواف په صورت کښې چکرې اولګولې، ❁ د هغوئي سعادتونه او خوشحالئ شروع شوے، ❁ فرښتو د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه وِرد اوکړو، ❁ د بي بي آمنه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه سترې والے ختم شو او د حُضُورِ پاك، صاحِبِ لولاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ولادت باسعادت اوشو. (رسائلِ میلادِ مصطفٰی،۲۲۷ملخصا)

حضرت بي بي آمنه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت ذِکر کوي، فرمائي: چې کله نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پیدا شو نو ما اولیدل چې هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په سجده کښې دے او په عاجزئ سره ئې خپله ګوته مبارکه اوچته کړې ده. بیا ما اولیدل چې سپینه وریځ د اسمان نه راکوزه شوه او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې زما نه پټ کړو، بیا ما د یو غږ کوونکي دا آواز واوریدلو: په دوئي باندې د مشرق و مغرب سیل اوکړئ، دوئي د زمکې هر ځائے ته بوځئ، د ټول سمندري مخلوق، پیریانو، انسانانو روحونو، فرښتو، مرغو او ځناورو په خوا ئې تیر کړئ، دوئي په هر ذِي روح باندې پیش کړئ چې هغوئي دوئي د نوم او اوصافو سره اوپیژني، او دوئي د ټولو انبیائے کرامو د پیدائش ځائیونو ته بوځئ. (خصائص الکبری،باب ظهر فی لیلة مولده۔۔۔الخ،۱/۸۲)

حضرت بي بي آمنه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نور فرمائي: بیا هغه وریځ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه لرې شوه نو ما اولیدل چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د سپینې وړئ کپړا راتاؤ ده او لاندې ترینه شنه ریښم خواره دي. (مولد النبی لابن حجر،ص ۲۲ ملخصا) یو ویونکي اووئیل: حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ټوله دُنیا باندې قبضه اوکړه او د زمکې یو مخلوق داسې نشته چې هغه د دوئي په قبضه کښې په خوشحالئ نه وي راغلے. د دې نه پس درې فرښتے نبي کریم طرف ته را وړاندې شوے، یوے سره د سپینوزرو پیالئ وه، دویمې سره د زَمَّرُد [یعني زمَرُودو] تال وو او دریمې سره سپین ریښم وو او په هغې کښې یوه

ځلیدونکي ګوتۍ وه. هغوئي خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د پیالۍ په اوبو غُسل ورکړو، بیا ئې د کپړے نه مهرِ نَبُوَّت راویستلو او د دواړو اوګو په مینځ کښې ئې ورته اولګولو.

(مولد النبی لابن حجر، ص ۲۲ ملخصاً)

بیا د یو کس آواز راغے: دوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام اخلاق، د حضرت شیث عَلَيْهِ السَّلَام معرفت، د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام بهادري، د حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام پخه دوستي، د حضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام ژبه، د حضرت اسحاق عَلَيْهِ السَّلَام رِضا، د حضرت صالح عَلَيْهِ السَّلَام فَصاحت، د حضرت لُوط عَلَيْهِ السَّلَام حِکمَت، د حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام زیرے، د حضرت مُوسٰی عَلَيْهِ السَّلَام سختي، د حضرت اَیُّوب عَلَيْهِ السَّلَام صبر، د حضرت یُونس عَلَيْهِ السَّلَام اِطاعت، د حضرت یُوشع عَلَيْهِ السَّلَام جهاد، د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ښائسته آواز، د حضرت دانیال عَلَيْهِ السَّلَام محَبَّت، د حضرت اِلیاس عَلَيْهِ السَّلَام وقار، د حضرت یحیٰي عَلَيْهِ السَّلَام عصمَت، د حضرت عیسٰی عَلَيْهِ السَّلَام زُهد او د حضرت یُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام حُسن و جمال عطا کړئ، بلکه دوئي د ټولو انبیاء و مُرسلین عَلَيْهِمُ السَّلَام د اخلاقِ حمیده نمونه جوړه کړئ. (خصائص الکبری، باب ظهر فی لیلة مولده۔۔۔الخ، ۱/۸۲)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د سرکار آمد | مرحبا | د نامدار آمد | مرحبا | د نُور آمد | مرحبا |
| د سردار آمد | مرحبا | د ښکلي آمد | مرحبا | د مکّي آمد | مرحبا |
| د مُختار آمد | مرحبا | د مدني جانان آمد | مرحبا | د مدنی آمد | مرحبا |
| د صادِق آمد | مرحبا | د یٰسٓ آمد | مرحبا | د رحیم | مرحبا |
| د مُزَّمِّل آمد | مرحبا | د مُدَّثِّر آمد | مرحبا | د طٰهٰ آمد | مرحبا |

مرحبا یا مصطفی مرحبا یا مصطفی مرحبا یا مصطفی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ولادتِ مُصطفٰی برکات

**اے عاشِقانِ رسول!** د مُصطَفٰـی جانِ رحمَت صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په راتلو باندې ښنګه ښنګه عجیبه نښې او برکتونه ښکاره شو، یقیناً دا د الله پاك فضل دے چې ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** په عالَم کښې سپرلي راغلل. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** د بي بي آمنه په کور کښې سپرلے راغے. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** د عربو د صحراء شګې د ستورو په شان اوځلیدلې. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** کعبه هُم د خوشحالئ نه تاو شوه. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** تیارے ختمې شوے. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** د کفر و شرك کورونه وران شو. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** بے وسو ته مددګار میلاؤ شو. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** د بے قراره خلقو زړونو ته قرار نصیب شو. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** غریبانو، یتیمانو ته آسرا نصیب شوه. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** شیطان ذَلیل و خوار شو او تر اوسه پورې مسلسل خوارېږي. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** جَهالَت ختم شو. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** ناجائزه او غیر شرعي رسمونه ختم شو. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** د مُعاشرے هر انسان ته د هغه جائز حقونه میلاؤ شو. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** زنانه ته د مور، خور، او لور مقام ورکړے شو. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** د اسلام بیرغ اوچت شو. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** زمانه نُورٌ علٰی نُور شوه. ❁ د **آمَدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په بَرَکت** دُنیا روښانه شوه.

**اے عاشِقانِ رسول!** مونږه هم نن د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آمد خوشحالي مناوهو، ډیرې ډیرې خوشحالئ اوکړئ په دې کښې شك نشته چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ

وَسَلَّم دې جهان ته فضل و رحمت جوړ شوے تشریف راوړے دے او د الله پاك د رحمت نازلیدو ورځ یقیناً د خوشحالۍ ورځ ده.

## مُومنانو خوشحالۍ مناؤ کړئ تاج والا راغلو

په سیپاره 11 سورۀ یُونُس آیت نمبر58 کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ؕ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۵۸﴾ (پ11،یونس:57) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: ته اوفرمایه د الله په فضل او هم د هغه په رحمت او په هُم دې باندې پکار ده چې خوشحالي اوکړي دا د هغوئي د ټول دولت نه بهتره ده- |

مُفسّرِ قرآن، مفتی احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه د دې آیتِ مبارَکه نه لاندې ارشاد فرمائي: اے محبوب! خلقو ته دا زیرے ورکړه او دا حکم هم ورکړه چې د الله په فضل او د هغه په رحمت میلاویدو باندې ښې خوشحالۍ مناؤ کړئ. عامه خوشحالي خو هر وخت مناوهئ او خاص خوشحالي په هغه تاریخونو کښې مناوهئ په کومو کښې چې هغه نِعمَت راغلے وي، یعني په رَمَضَان کښې، خُصُوصاً په شَبِ قدر او په رَبِیۡعُ الۡاَوَّل کښې خُصُوصاً په دولسم تاریخ، چې په رَمَضَان کښې د الله فَضَل "قُرآن" راغلے دے، او په رَبِیۡعُ الۡاَوَّل کښې رَحۡمَۃٌ لِّلۡعَالَمِیۡن، یعني مُحَمَّدِ مُصۡطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پیدا شوے دے. دا فضل و رحمَت یا په دې خوشحالی مناوهل ستاسو د دُنیاوي مالونو، سامانونو، روپو، مکان، جائیداد، فصل بلکه اولاد وغیره هر څه نه بهتر دي ځکه چې د دې خوشحالۍ نفع شخصي نه ده بلکه قومي ده، وختـي نه ده بلکه دائمي ده، صرف په دُنیا کښې نه ده بلکه دِین و دُنیا دواړو کښې ده، جسماني نه ده بلکه دِلي او رُوحانـي ده. برباد نه ده بلکه په دې باندې ثواب دے. (تفسیرِ نعیمی، پ۱۱، یونس، تحت الآیۃ: ۵۸، ۱۱/۳۷۷)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په قرآنِ پاك کښې په ډیرو مقاماتو کښې الله پاك

د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آمد اعلان کړے دے. راځئ چې داسې یو څو آیتونه واورو، چنانچه په سیپاره 6 سورۀ مائـده آیت نمبر 15 کښې ارشاد دے:

| | | |
|---|---|---|
| قَدۡ جَآءَكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ نُوۡرٌ وَّ كِتٰبٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۱۵﴾ (پ٦، المآئدة: ١٥) | | مفهوم تَرجَمَه کَنزُالاِیمَان: بیشکه تاسو ته د الله له طرفه یو نُور راغلو او روښانه کتاب. |

په سیپاره 11 سورۀ توبه آیت نمبر 128 کښې ارشاد دے:

| | | |
|---|---|---|
| لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ عَزِيۡزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيۡصٌ عَلَيۡكُمۡ بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ رَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۲۸﴾ (پ١١، التوبه: ١٢٨) | | مفهوم تَرجَمَه کَنزُالاِیمَان: بیشکه تاسو ته تشریف راوړو ستاسو نه هغه رسول په چا چې ستاسو په مشقت کښې پریوتل ګران [مشکل] دي، ستاسو د ښیګړې نهایت غوښتونکے، په مسلمانانو باندې کمال مهربان. |

په سیپاره 17 سورۀ انبیاء آیت نمبر 107 کښې ارشاد دے:

| | | |
|---|---|---|
| وَمَاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا رَحۡمَةً لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۱۰۷﴾ (پ١٧، الانبيآء: ١٠٧) | | مفهوم تَرجَمَه کَنزُالاِیمَان: او مونږه تاسو نه ئې لیږلي خو رحمت د ټول جهان د پاره. |

په سیپاره 22 سورۀ اَحزاب آیت نمبر 45، 46 کښې ارشاد دے:

| | | |
|---|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ شَاهِدًا وَّ مُبَشِّرًا وَّ نَذِيۡرًا ﴿۴۵﴾ وَّ دَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ بِاِذۡنِهٖ وَ سِرَاجًا مُّنِيۡرًا ﴿۴۶﴾ (پ٢٢، الاحزاب: ٤٦،٤٥) | | مفهوم تَرجَمَه کَنزُالاِیمَان: اے د غیب خبرونو ورکولو والا (نبـي) بیشکه مونږه تاسو لیږلي ئې حاضر و ناظِر او زیرے ورکوونکے او ویره اَوروَونکے او د الله طرف ته د هغه په حکم را بلونکے او پرقوونکے لمَر- |

**اے عاشِقانِ رسول!** د آمدِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشحالي مناوهل يعني ميلاد شريف مناوهل حكمِ قرآني دے او د نبـي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوشحالئ سبب دے. يقيناً ميلاد مناوهل، د ميلاد په مياشت كښې په خپلو كورونو، كوڅو او محلو كښې مدني جهنډے لګول، قسما قسم رنګا رنګ لائټونه لګول، خپلو ګاډو باندې وړې مدني جهنډے لګول ښكلے او ښائسته عمل دے. د دې مباركې مياشتې په راتلو باندې خاص طور د ګناهونو نه توبه كولو او په سُنَّتو او نيكو باندې اِستِقامت حاصلولو د پاره د عظيمې مدني نُسخے يعني "**نيك اعمال**" مطابق د ژوند تيرولو پخه اراده كول، كلي كلي، علاقه علاقه كښې د "**مَرحبا يا مُصطَفٰی**" نعرے لګول، اسلامي ورونړو سره په مدني قافله كښې سفر كول، د ميلاد شريف په اجتماع كښې او د ميلاد شريف په جلوس كښې د مكتبةُ المَدينه رسالے تقسيمول او د نيكئ دعوت عام كول، د 12 رَبِيْعُ الْاَوَّل پورې د علاقے په مختلفو جماتونو كښې د جَشنِ وِلادت عظيمُ الشَّان سُنَّتو ډك اجتماعات منعقد كول، د رَبِيْعُ الْاَوَّل هفته وارو اجتماعاتو او مدني مذاكرو كښې د مدني جهنډو سره د اوَّل نه تر آخره پورې شركت كول، د دولسمې شپے د تعظيم په نِيَّت غُسل كول، نوي جامے اغوستل، د خپل روزمره استعمال نوي خيزونه اخستل، د **خَاتَمُ الْمُرسَلِيْن، رَحْمَةٌ لِّلْعَالَمِيْن، شَفِيْعُ الْمُذْنِبِيْن، اَنِيْسُ الْغَرِيْبِيْن، سِرَاجُ السَّالِكِيْن، مَحْبُوبِ رَبِّ الْعَالَمِيْن، جنابِ صَادِقْ و امين** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو باندې د عمل كولو په نِيَّت د ولادت په ورځ (يعني په 12 رَبِيْعُ الْاَوَّل) روژه نيول، دولسمه شپه په اجتماعِ ميلاد كښې تيرول، د سحر راختلو په وخت كښې مدني جهنډے په لاسو كښې نيولو سره او دُرُود و سلام لوستلو سره د "**سحر د سپرلي**" استقبال كول، د سحر لمَانځه نه پس يو بل سره سلام او مباركي كول، په اجتماعِ ميلاد او جلوسِ ميلاد كښې د عاشقانِ رسول د پاره د لنګر اهتمام كول او ډير ډير صدقات و خيرات كول د

اجر و ثواب کار دے.

حضرت اِمام عبدُ الرَّحمٰن اِبنِ جَوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په جَشنِ وِلادت باندې خوشحالئ کوونکو د پاره به دا خوشحالي د جَهَنَّم نه رُکاوَټ جوړه شي. اے د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتیانو! ستاسو د پاره زیرے دے، تاسو په دُنیا او آخرت کښې د ډیر خیر حقدار اوګرځیدئ. د حضرت سَیِّدُنا احمد مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جَشنِ وِلادت مناوهونکو ته به برکت، عِزَّت، خیر او فخر نصیب کیږي، د ملغلرو عِمامه او شنه حُلَّه به ئې اغوستي وي او جنت ته به داخل شي، بیشمیره محلات به هغه ته عطا کړے شي، په هر محل کښې به حوره وي. په خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ډیر ډیر دُرُود شریف اولولئ، جَشنِ وِلادت مناؤ کړئ او ښه ئې عام کړئ.

(مجموع لطیف النبی فی صیغ المولد النبوی القدسی، مولد العروس، ص۲۸۱ملتقطا)

## صحابهٔ کرامو میلاد څنګه مناؤ کړے وو؟

څنګه چې الله پاك په قرآنِ کریم کښې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشریف راوړلو ذِکر کړے دے، د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کمالات ئې بیان کړي دي او پخپله خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم د خپل ولادت ذِکر کړے دے، دغه شان صحابهٔ کرامو هم په خپلو خپلو محفلونو کښې د حُضُورِ اَکرَم ډیرې ډیرې تذکِرے کړې دي. چنانچه

د حضرت ابُوسعید رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې حضرت اَمیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: یو ځل خوږ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان یوے حلقے خوا ته تشریف راوړلو او تپوس ئې ترینه اوکړو: تاسو دلته کوم څیز کښینولي ئې؟ صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان عرض اوکړو: مونږه د الله پاك ذِکر کولو د پاره ناست یو، د هغه شُکر ادا کوو چې هغه مونږ ته د اسلام هدایت عطا کړو او ستاسو په ذریعه ئې په مونږ

باندې لوئ احسان اوکړو، نو نبـي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: ستاسو دِ په الله قَسَم وي! آیا تاسو صرف دې څیز کښېنولي ئې؟ هغوئي عرض ئې اوکړو: په الله پاك مو دِ قَسَم وي! مونږه د دې نه علاوه بل څیز نه یُو کښېنولي، نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ما له جبریلِ اَمین عَلَيْهِ السَّلَام راغلو او هغوئي ما ته اووئیل چې الله پاك ستاسو په وجه په فرښتو باندې فخر کوي.

(نسائی، کتاب آداب القضاۃ، باب کیف یستحلف الحاکم، ص۸٦۱، حدیث: ۵۴۳٦)

د دې حدیثِ شریف لاندې مُفسّرِ قرآن، حضرت مفتی احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: معلومه شوه چې د اسلام او د حُضُورِ اَنوَر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشریف راوړلو په شُکریه کښې مجلسونه کول، او د ناستې حلقے جوړول د صحابهٔ کرامو طریقه ده، دا حدیثِ پاك د مجلسِ میلاد شریف اصل دے. (مراٰۃالمناجیح، ۳۲۱/۳)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د میلاد شریف په اجتماع کښې د خوږ آقا، مکي مدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِلادتِ پاك، رَضاعت مبارك او د ماشوم والي واقعات بیانول، د دې د پاره محفل جوړول، خلق راجمع کول، د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت په خوشحالئ کښې په خلقو طعام خوړل جائز دي.

## مونږ هُم د هغه نه خوشحالیږو

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مسلمانان په دې مبارکه میاشت کښې د جَشنِ ولادت خوشحالي مناوهي، په جماتونو، کورونو، دکانونو، ګاډو او خپلو محلو کښې مدني جهنډے پرقوي، ښې رنړا ګانې کوي، د ربیعُ الاوّل شریف په دولسمه شپه د ثواب حاصلولو په نِیَّت په محفلِ نعت کښې شریك کیږي، د سحر راختلو په وخت مدني جهنډا په لاس دُرُود و سلام لولي او د سحر د سپرلي استقبال کوي. میلاد شریف مناوهونکو داسې عاشقانِ رسول نه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُم خوشحالیږي، څنګه چې یو بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته په

خوب كښې د خوږ نبــي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، نو ما د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه كښې عرض اوكړو: يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا د مسلمانانو هر كال ستاسو د پيدائش مبارك خوشحالي مناوهل تاسو خوښوئ؟ نو حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: څوك چې زمونږ په ولادت باندې خوشحالي مناوهي او زمونږ نه خوشحاله وي، مونږه هم د هغه نه خوشحاله يو. (تذكِرةُ الواعظِين، ص٦٠٠)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د سركار آمد | مرحبا | د نامدار آمد | مرحبا | د نُور آمد | مرحبا |
| د سردار آمد | مرحبا | د بنكلي آمد | مرحبا | د مكّي آمد | مرحبا |
| د مُختار آمد | مرحبا | د مدني جانان آمد | مرحبا | د مدنى آمد | مرحبا |
| د صادِق آمد | مرحبا | د يٰسٓ آمد | مرحبا | د رحيم | مرحبا |
| د مُزَّمِّل آمد | مرحبا | د مُدَّثِّر آمد | مرحبا | د طٰهٰ آمد | مرحبا |

مرحبا يا مصطفى مرحبا يا مصطفى مرحبا يا مصطفى

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

[الله پـكا دِ مونږ ته بيا بيا د عيد ميلادُ النبي شريف خوشحالۍ كول رانصيب كړي- اٰمِين بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد